هفته نامه
# دهقان

معیاري کرنه؛ نړیوال بازارته لاس رسی
زراعت معیاری؛ دستیابی به بازار جهانی

هفته‌نامه دهقان، شماره یکصدوچهار، شنبه ۱ سنبله ۱۳۹۹

# کندهار کې د کب روزنې صنعت په پراخېدو ده



ص۳

# هرات امسال هشت هزار تن انجیر تولید خواهد کرد



ص۳

## کرنیزو تولیداتو ته د بازارموندنې په پار سعودي عربستان کې له افغان سفیر سره خبرې وشوې



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت سرپرست او د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري په سعودي عربستان کې افغان سفیر احمد جاوید مجددي سره د ویډیو کنفرانس له لارې په دغه هېواد کې د افغاني کرنیزو تولیداتو د بازارموندنې،په کرنیز سکټور کې د پانګونې او د کرنیزو نندارتونونو پر جوړولو خبرې اترې وکړې. ددې ویډیو کنفرانس په لړ کې ښاغلي غفوري په سعودي عربستان کې افغان سفیر احمد جاوید مجددي ته وویل، چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کرنې، بنوالۍ او اوبولګولو په بېلابېلو برخو کې پروژې لري، چې ددغو پروژو ټول معلوماتي بسته به په سعودي عربستان کې افغان سفارت ته ولیږل شي، ترڅو هلته ورته کرنیز نندارتون جوړ او بازارموندنه یې وشي. ښاغلي غفوري دغه راز په خپلو خبرو کې وویل، که سعودي عربستان وغواړي کولئ شي، چې زموږ پر کرنیز سکټور پانګونه وکړي او یا موږ سره مالي او تخنیکي همکارۍ وکړي تر څو وتوانیږو چې خپل کرنیز تولیدات سعودي عربستان او نورو هېوادونو ته صادر کړو. د کرنې وزارت سرپرست او د طبیعي سرچینو او اوبولګولو مرستیال وویل، سعودي عربستان کولای شي، چې د کمال خان بند اړوندو سیمو ۱۷۰ زره جریبه ځمکه کې د خپل اړتیا وړ کرنیز توکي وکري او یا موږ ته سپارښتنه وکړي، چې د دوی د اړتیا وړ کرنیز توکي وکرو او محصولات یې پر دوی وپلورو. هغه دغه راز وویل، د شمال دښتې چې ۵۰۰ زره هکتاره ځمکې لري او په راتلونکې کې د خوشتیپې کانال له لارې خړوبیږي، د کرنې وزارت کولئ شي، چې داسیمې د سعودي عربستان پانګوالو ته په واک کې ورکړي او یا د دوی د سپارښتنې سره سم موږ کولای شو دوی ته کرنیز توکي چمتو کړو. دکرنې وزارت سرپرست او د اوبولګولو او طبیعي سرچینو مرستیال حشمت الله غفوري زیاته کړه، سعوي عربستان کولئ شي، چې په افغانستان کې د برنډ جوړولو او بسته بندۍ یو مرکز جوړ کړي او افغان کرنیز محصولات په کې بسته بندي او نورو هېوادونو ته یې ولیږي. په همدې حال کې سعودي عربستان کې افغان سفیر احمدجاوید مجددي ډاډ ورکړ، چې په سعودي عربستان کې به د افغانستان کرنیزو محصولاتو ته د بازارموندنې ترڅنګ په کرنیز سکټور کې د پانګونې د جلبولو په برخه کې هم پوره همکارۍ کوي. ښاغلی مجددي وویل، چې دی به د سعودي عربستان شاهي مشرتابه او ولیعهد او دغه راز دافغانستان دکرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په ګډون د سوداګرۍ او صنایعو وزارت سره خبرې کوي او دا زمینه به برابروي، چې افغان دولت د سعودي عربستان شاهي حکومت سره اړوندو ځانګړو برخو کې هوکړې ته ورسیږي.
سعودي عربستان د کال نهه میلیارډه ډالر کرنیز واردات لري، دا د افغانستان کرنیز سکټور ته ښه موقع ده، چې خپل تولیدات په کم وخت او په لنډ واټن کې د سعودي عربستان تر بازارونو ورسوي. باید وویل شي، چې تر دې مخکې د افغانستان او سعودي عربستان ترمنځ ګډ کمیسیون جوړ شوې وه، چې موخه یې د سعودي عربستان مارکېټونو ته د افغانستان د کرنیزو تولیداتو رسول و.

### دیدار معین مالی و اداری وزارت زراعت با مسوولان برنامه‌ی حساب‌دهی و شفافیت افغانستان؛

## تعهد همکاری دوجانبه در مبارزه با فساد



عبدالهادی رفیعی، معین مالی و اداری وزارت زراعت، در دفتر کارش با مسوولان برنامه‌ی حساب‌دهی و شفافیت لوی‌سارنوالی دیدار کرد. این دیدار در ادامه‌ی کمپین مبارزه با فساد برنامه حساب‌دهی و شفافیت افغانستان راه‌اندازی شده بود. این مسوولان به معین مالی و اداری وزارت زراعت درباره‌ی چگونه‌گی تطبیق برنامه و دست‌آوردهای متوقعه‌ی آن معلومات دادند. آنان گفتند که موارد فساد باید به لوی‌سارنوالی ج.ا.ا گزارش داده شود و این نهاد مکلف است تا به صورت جدی در این بخش اقدام کند. از جانب دیگر، آقای رفیعی در این دیدار وعده‌ی هر نوع همکاری را با این برنامه سپرد و گفت که در این زمینه از هیچ نوع همکاری دریغ نمی‌کند، زیرا ضرورت جدی مبارزه با فساد و نیاز تأمین شفافیت را مردم و کشور حس می‌کنند. آقای رفیعی در ادامه گفت: «مشکل اصلی مبارزه با فساد اداری است که هم به عنوان فرد و هم به عنوان یک ملت، به این باور نرسیده‌ایم که می‌توانیم فساد را از بین ببریم، باید از داستان‌های فردی عبور کنیم و به یک روایت ملی در امر مبارزه با فساد برسیم، زیرا تنها در این صورت است که می‌توانیم شفافیت و مبارزه با فساد را به یک فرهنگ بدل کنیم.»

## پروژه‌ی پایداری حفظ‌الصحه و تجارت نباتات افتتاح شد




پروژه‌ی پروژه‌ی پایداری حفظ‌الصحه و تجارت نباتات توسط محبوب‌الله ننگ، سرپرست معینیت زراعت و مالداری در صحن ریاست حفظه‌الصحه و قرنطین در فارم تحقیقاتی بادام‌باغ، افتتاح شد. ارزش مجموعی این پروژه، ۴۰۰ هزار دالر امریکایی است که توسط اداره‌ی انکشاف بین‌المللی ایالات متحده‌ی امریکا «USAID» تمویل می‌شود. این پروژه برای پایداری حفظ‌الصحه و رشد تجارت نباتات و به همکاری پوهنتون تگزاس امریکا، کار می‌کند. محبوب‌الله ننگ، معین زراعت و مالداری، ضمن افتتاح این پروژه گفت: «در افغانستان از همه اول‌تر تطبیق پروژه‌ی پایداری حفظه‌الصحه و تجارت نباتات، به دوس ریاست حفظ‌الصحه و قرنطین است. این پروژه باید به اساس معیارها و اصول سازمان تجارت جهانی یا «WTO» عملی شود.» این پروژه توسط نهاد «CABI» در جریان دو سال تطبیق می‌شود.

## گپ دهقان

## آغاز دومین قرن استقلال؛ برنامه‌ریزی برای آینده‌ی توسعه‌یافته

عمر استقلال افغانستان در ۲۸ اسد امسال به آغاز قرن دومش وارد شد. افغانستان پس از ۲۸ اسد، ۱۰۱ ساله‌گی استقلالش را آغاز کرد.
از آن‌جا که بنیادهای استقلال، رشد اقتصادی و تولید بیش‌تر است و یکی از وزارت‌خانه‌های اصلی در این بخش، وزارت زراعت است، در سال روان تلاش‌های زیادی برای مدیریت بهتر محصولات زراعتی آغاز شده و به شدت ادامه دارد.
از آن‌جایی که اساس و تقویت‌کننده‌ی استقلال سیاسی، استقلال اقتصادی است و زراعت اساس اقتصاد افغانستان را شکل می‌دهد، وزارت زراعت با طرح برنامه‌های گوناگون، در صدد توسعه‌ی زنجیره‌های ارزشی محصولات زراعتی کشور است تا بتوانیم ریشه‌های استقلال کشور را تقویت کنیم.
آرزوی شاه‌امان‌الله خان، یک افغانستان مدرن، توسعه‌یافته، مستقل و آزاد بود. به همین خاطر بود که به بنیان‌گذاری مکتب‌های اختصاصی روی آورد و تلاش کرد در هر بخش، از جمله زراعت، آینده‌گان آموزش ببینند و در آینده خدمت‌گزار باشند.
دولت افغانستان در شش سال گذشته به شدت روی ساخت زیربناهای اقتصادی کار کرده است. وزارت زراعت نیز روی زیربناهای زراعتی تا حدی که توان داشته، کار کرده است.
از این میان، نزدیک‌شدن به خودکفایی در سکتورهای گوناگون و افزایش حاصلات زراعتی از دست‌آوردهای مهم وزارت زراعت است.
در سال روان، ظرفیت‌ها و زمینه‌هایی که برای شاغلان سکتور زراعت با راه‌اندازی پروژه‌ی مدیریت محصولات زراعتی فراهم شده، باعث گردیده است که دست‌آوردهای بیش‌تری داشته باشیم و دهقانان با استفاده از زیربناهایی که وزارت زراعت برای‌شان می‌سازد/ساخته است، محصولات زراعتی‌شان را بهتر مدیریت کنند.
ما به این باوریم که افغانستانی دارای منابع اقتصادی و در نهایت تمویل‌کننده‌ی خودش، می‌تواند ظرفیت‌های بالاتری برای حفاظت از استقلال سیاسی‌اش داشته باشد و بتواند در آینده بدون همکاری مالی منابع بیرونی به رشد و توسعه‌اش ادامه بدهد.
تلاش ما در بخش زراعت، این است که قرن جدیدی از استقلال کشورمان را با امیدهای کلان برای رشد زراعت و تقویت اقتصاد ملی آغاز کنیم و آهسته‌آهسته دیگر بار دوش همکاران جهانی خویش نباشیم.

استقلال افغانستان پاینده‌باد

# ۲۴ کانال آبیاری درجه دوم در کندز به بهره‌برداری سپرده شد



وزارت زراعت از طریق پروژه‌ی سرمایه‌گذاری انکشاف منابع آبی کوکچه یا (LKISP) ۲۴ کانال درجه دومِ آبیاری را در ولسوالی‌های امام‌صاحب و دشت‌ارچی ولایت کندز به بهره‌برداری سپرده است.
این کانال‌ها که به صورت جمعی ۱۷۳ کیلو متر طول دارند، به صورت پخته و اساسی ساخته شده‌اند.
با ساخت این کانال‌ها، مشکلات کمبود و تقسیم آب میان دهقانان مناطق تحت پوشش (سر آب و پایین آب) به صورت اساسی حل شده است. هزینه‌ی ساخت این کانال‌ها ۸۰ میلیون افغانی است که از سوی بانک انکشاف آسیایی پرداخته شده است.
کانال‌های یادشده به صورت مجموعی ۱۲ هزار هکتار زمین را آبیاری می‌کند و ۱۵ هزار خانواده را به صورت مستقیم بهره‌مند می‌سازد. هم‌چنان ۵۵ هزار تن دیگر به صورت غیرمستقیم از این تأسیسات بهره می‌برند.
پروژه‌ی سرمایه‌گذاری انکشاف منابع آبی (LKISP) برای ارتقا و احیای مجدد کانال‌های درجه دوم، کانال‌های درجه سوم و ساختمان‌های سربند، برای دو زون آبیاری طرح و دیزاین شده است.
زون اول این پروژه در ولسوالی امام‌صاحب ولایت کندز موقعیت دارد که ۵۱ هزار و ۷۶۰ هکتار زمین را در بر می‌گیرد و توسط کانال امام‌صاحب آبیاری می‌شود. زون دوم در ولسوالی‌های دشت‌ارچی ولایت کندز و خواجه‌غار ولایت تخار موقعیت دارد. این زون ۲۷ هزار و ۹۰۰ هکتار زمین را در خود جا داده است و توسط کانال عمومی دشت ارچی آبیاری می‌شود.

# ۲۳ وسیله‌ی پروسس مالداری و باغداری به مالداران و باغداران دایکندی توزیع شد



ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت دایکندی می‌گوید که در این ولایت، ۲۳ وسیله‌ی پروسس لبنیات و باغداری، به مالداران و باغداران توزیع شده است.
سید عبدالواحد فیروزی، رییس زراعت دایکندی گفت که این وسایل، شامل پمپ‌اسپری ۲۰ لیتری، قیچی کلان شاخه‌بُری، لباس مکمل محافظتی، اره، قیچی شاخه‌بُری خرد، دیگ المونیمی، دبه‌ی گاز، اجاق گاز، ماشین مسکه‌ی۳۰ لیتری، سطل سرپوش‌دار نکلی، سطل شیردوشی ۱۵ لیتری المونیمی و ... می‌باشد.
در مراسم توزیع این وسایل، محمدضیا همدرد والی و شماری دیگر از مقام‌های محلی نیز حضور داشتند.
وسایل یادشده برای ۶۶ گروپ مردانه و ۶۶ گروپ زنانه که شامل چهار هزار نفر می‌شود، توزیع شد.
در پهلوی توزیع وسایل و تجهیزات، مهارت‌های لازم در چهار مرحله برای چهار هزار مستفیدشونده در بخش‌های باغداری، پروسس لبنیات و مراقبت از حیوانات آموزش داده می‌شود.
این پروژه توسط ریاست زراعت دایکندی و به همکاری پروژه‌ی تقویت معیشت و مراقبت صحت حیوانات مربوط به فامیل‌های آسیب‌پذیر یا «Brooke/STRAW» در ولسوالی‌های نیلی، خدیر و سنگ‌تخت و بندر تطبیق می‌گردد.

# پکتیا کې د ځنګلونو خوندي کولو په پار پر نږدې درې زره کورنیو اصلاح شوي نغري وېشل کیږي



د پکتیا د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې په دې ولایت کې د ځنګلونو د پرېکېدو د مخنیوي او چاپېریال ساتنې په پار دیاد ولایت د احمدآباد او سیدکرم ولسوالیو پر دوه زره او ۹۵۵ هغو کورنیو چې د ځنګلونو شاوخوا کورونه لري او ژوند کوي اصلاح شوي نغري وېشل کیږي.
په هغه غونډه کې، چې د یادو نغریو د وېش په موخه جوړه شوې وه د پکتیا مرستیال والي عبدالولي سهي، د کرنې رییس محمدالدین مومند او د دې ولایت یوشمېر نورو سیمه ییزو چارواکو ګډون درلود.
د پکتیا مرستیال والي عبدالولي سهي وویل، طبیعي ځنګلونه د خدای ستر نعمت او زموږ ملي شتمني ده، د ځنګلونو ساتنه او پالنه پرموږ ټولو لازمې ده. ښاغلی سهي پر پکتیاوالو غږ وکړ چې ددې ولایت د طبیعي ځنګلونو بیارغونې او ساتنې ته جدي پام وکړي.
په همدې حال کې د پکتیا دکرنې رییس محمدالدین مومند وویل، چې د یادو نغریو د وېش لړۍ د پکتیا ولایت د احمد اباد له ولسوالۍ څخه پیل شوې ده او په دې ولسوالۍ کې پر یو زر او ۴۷۷ کورنیو اصلاح شوي نغري وېشل شوي دي. ښاغلی مومند وویل، چې په نږدې راتلونکې کې به ددې ولایت د سیدکرم ولسوالۍ پر یو زر او ۴۷۸ کورنیو هم اصلاح شوي نغري ووېشل شي.
محمدالدین مومند وویل، چې دغه اصلاح شوي نغري د کرنې وزارت اړوند د ځمکې او ځنګلونو د تلپاتې مدیریت پروژې (FAO/GEF) له خوا په یادو کورنیو وېشل کیږي.
د پکتیا دکرنې رییس وویل، چې د کرنې ریاست د ځنګلو ساتنې او پالنې ته ژمن دی او په دې برخه کې تل هلې ځلې کوی.
باید وویل شي، چې له اصلاح شویو نغریو څخه ګټه پورته کول د طبیعي ځنګلونو د خوندي کولو ترځنګ د چاپېریال په ساتنه او د ګلخانه یي ګازونو د کچې په ټیټولو کې رغنده رول لري.

# کندهار کې د کب روزنې صنعت په پراخېدو ده

نور الله پتمن

په کندهار کې د کبانو فارمونو په بې سارې توګه وده کړې او په دې وروستیو کلونو کې په دغه ولایت کې د کبانو روزنې یو زر او ۶۰۰ بابه لوی او کوچني فارمونه جوړ شوي دي.

د کندهار د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې په کندهار کې د کبانو روزنې شته فارمونه د کال له پنځه تر شپږ زره ټنه غوښه تولیدوي، چې د کابل په ګډون ګڼو ولایتونو ته صادرېږي.

د کبانو دغه شمېر فارمونه د کندهار ولایت په بېلابېلو ځنډو کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت او خصوصي سکټور په ګډې همکارۍ جوړې شوي، چې ډېری فارمونه یې په کندهار ښار، دامان، ډنډ، ارغنداب، شاولیکوټ، خاکرېز، سپین بولدک، ژېړۍ، پنجوايي، تخته پُل او میوند ولسوالیو کې دي.

د کندهار دکرنې رییس انجنیر سیدحفیظ الله سیدي وايي، چې له یادو فارمونو څخه د کبانو د روزنې ترڅنګ د سیمې د ښېرازۍ او سمسورتیا په پار د بنونو د خړوبولو په پار هم ګټه اخیستل کیږي. ښاغلي سیدي وویل، چې په دې ولایت کې د کبانو د نویو هچریو په جوړېدو سره به په کور دننه فارم لرونکو ته په کم لګښت د کبانو د بچیو وېش هم پیل شي.

په ورته وخت کې د کندهار د مالدارۍ دترویج مدیرانجنیر محمدالله نوري وایي، چې په دې ولایت کې د کبانو صنعت د پراختیا په پار بېلابېلې پروژې پلي شوي دي، چې په کې دکبانو روزنې واړه او لوی فارمونه جوړول، د کبانو د بچیو د تولید په پار د کبانو د هیچري فارم جوړول او د کبانو پر فارم لرونکو د کبانو د بچیو او اړینو توکو وېش شامل دي. ښاغلي نوري وویل، چې په کندهار کې د کبانو ترټولو غټ فارم ۷۳ جریبه مساحت لري، چې په دامان ولسوالۍ کې جوړه شوې ده. دغه فارم چې د کرنې وزارت د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې «NHLP» او خصوصي سکټور په ګډه همکارۍ جوړه شوې ده، د کبانو د بچیو د تولید او روزنې په پار ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. ښاغلی نوری وايي په کندهار کې د کبانو د صنعت پراختیا ته د خلکو لېوالتیا ورځ تربلې زیاتیږي.

نوموړی وویل، چې په کندهار کې درې ډوله کبان؛ معمولي کارپ « Common Carp»، سلور یا سپین زر کارپ « Silver Carp» او واښه خوړونکی ګراس کارپ« Grass Carp» روزل کېږي.

د ده په وینا، په یوه جریب فارم کې دوه زره او ۵۰۰ کبان روزل کېدای شي، چې په کال کې هر یو کب له یوه کیلو څخه تر دوه کیلو ګرام وزن اخلي او ۹۰ سلنه خوراک یې شنه واښه دي.

د چارواکو په خبره که دغلته د کبانو د فارمونو جوړولو لړۍ همداسې چټکه روانه وي نو په نږدې راتلونکې به کندهار د کبانو په یوه لوی تولیدوونکی ولایت بدل شي.

باید وویل شي، چې په دې وروستیو کلونوکې په افغانستان کې د کب روزنې ډېر فارمونه جوړ شوې، چې ډېری یې په کندهار، هلمند، ارزګان، ننګرهار، لغمان، بلخ او نیمروز ولایتونوکې شتون لري او له دغو فارمونو څخه په کال کې څه باندې ۱۰ زره ټنه کبان تولیدیږي.

# هرات امسال هشت هزار تن انجیر تولید خواهد

مینا افسری

مسوولان ریاست زراعت ولایت هرات از افزایش حاصلات انجیر در این ولایت خبر می‌دهند.

شکرالله امینی مدیر عمومی باغداری ریاست زراعت هرات می گوید حاصلات انجیر هرات امسال به ۸۰۰۰ تن خواهد رسید که این رقم افزایش هفت درصدی را نسبت به سال پار نشان می‌دهد.

آقای امینی با بیان این‌که کشت انجیر در هرات رشد چشم‌گیری داشته، می‌گوید که ۳۷۰ هکتار زمین در این ولایت باغ‌های انجیر است.

مدیر عمومی باغداری هرات می‌افزاید که بیش‌ترین باغ‌های تحت کشت انجیر در ولسوالی‌های زنده‌جان، انجیل، غوریان و گذره این ولایت است که حدود ۹۰ درصد آن تنها در ولسوالی زنده جان تولید می‌شود.

وی عنوان کرد: به دلیل سریع‌الفساد بودن این میوه، حدود ۸۰ درصد آن به شکل تازه به بازارهای هرات و ولایات همجوار عرضه می‌شود و ۲۰ درصد آن نیز پروسس و خشک می‌شود.

انجیر از نظر اقتصادی، جایگاه خوبی را در بازار به خود اختصاص داده است و قیمت فروش آن در مقایسه با سایر میوه‌جات متمایز است. معمولاً قیمت اوسط هر کیلو انجیر در بازار هرات ۶۰ افغانی است.

مدیر عمومی باغداری زراعت هرات می‌گوید نژادهای مشهور انجیر، شامل نژاد محلی به نام انجیر زرد و سیاه است که نوع سیاه آن بیش‌ترین ساحه و بازار را در این ولایت دارد.

در همین حال شماری از انجیرپروران در این ولایت با ابراز خرسندی از افزایش حاصلات انجیر در هرات، تاکید بر حمایت تولیدات و محصولات داخلی دارند.

از سوی دیگر شماری از آگاهان زراعتی می‌گویند اهمیت غذایی و دارویی بلند، انجیر را به عنوان یکی از محصولات زراعتی مهم در هرات مطرح ساخته است و از همین رو کشت این میوه در هرات سالانه رو به افزایش است و توجه باغداران زیادی را به خود جذب کرده است.

جمعه گل یکی از باغداران انجیرکار ولسوالی انجیل می‌گوید: «از چند سال به این سو مصروف کاشت‌وبرداشت انجیر هستم که خوشبختانه هر سال حاصلات باغ ما رو به افزایش است و سبب بلند رفتن رشد اقتصاد خانواده ما شده است.»

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت هرات همه ساله به منظور انکشاف تولید انجیر و حمایت از تولیدکننده‌گان این میوه، گام‌های اساسی می‌بردارد که می‌توان از ایجاد باغ‌ها و مراکز پروسس و بسته‌بندی، توزیع وسایل، جمع‌آوری و برداشت، تدویر برنامه‌های آموزشی برای دهقانان و غیره نام برد.

قابل تذکر است که در افغانستان ۱۶ اکسیژن انجیر در کلکسیون میوه‌جات ولایت‌های قندهار و جلال‌آباد وجود دارد که هدف آن، حفظ جرم پلازم انجیر و تحقیق و تکثیر بهترین انواع آن در بین باغداران سراسر کشور است.







دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷۶۶۴۰۰۶۰۰ - akbar_rostami10@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳۴۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
مدیر خبر: گیتی محسنی
گزارشگران: شجاع‌الحق نوری، نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری و عبدالواسع خان‌زاده
برگ‌آرایی: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷۶۶۴۰۰۶۰۰ ۰۷۴۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

Dehqan weekly

Standard Agriculture;
Access to Global Market

No: 104 - Dehqan Weekly - Saturday August 22,2020

# بلخ کې د غوا روزنې فارمونه د ورځې ۳۰ زره لیټره شېدې تولیدوي

د بلخ د کرنې، اوبولګولو او مالداری ریاست وايي، چې په دې ولایت کې د غوا روزنې نږدې ۳۵ فارمونه فعالیت لري، چې په ټولیزه توګه د ورځې ۳۵ زره لیټره شېدې تولیدوي.
د بلخ لبنیات، پاکیزه او سلطان تازه شرکتونه هره ورځ د بلخ له ۱۴ ولسوالیو شېدې راټولي او پروسسوي.
ددې ترڅنګ د غوښینو څارویو د پالنې په پار هم د غوا روزنې فارمونه فعالیت لري، چې د یوزر او ۷۰۰ خوسکیو په ساتنې سره د بلخ ولایت د اوسیدونکو د اړتیا وړ غوښه برابروي.
د بلخ ولایت د حیواني روغتیا لوی مدیر محمدرفیق صادقي وایي: «د بلخ د کرنې ریاست له خوا سږکال ۱۲۰ زره ډوزه واکسین پر څارویو پلې شوي دي او دغه راز په ۱۴ ولسوالیو کې یې د وټرنری سیمه ییز کلینیکونه هم جوړ کړي دي.
ښاغلی صادقی زیاته کړه: «د کرنې وزارت له خوا د مالدارانو پر څارویو د بروسلوز، کانګوتبې، پيپي‌آر او افامډي واکسینونه په وړیا توګه پلي کیږي، ددې ولایت څاروي د ټولو ناروغیو پر وړاندې واکسینیږي، هر کال د وړو څارویو نږدې دوه میلیونه



ډوزه مصرفیږي او ۱۰۰ تر ۲۰۰ زره لوی څاروي واکسینیږي.»
د بلخ ولایت یو تن فارم لرونکی او د دهدادي ولسوالۍ د شیخ اباد کلي د غوا روزنې د فارم موسس محمدشاهد وایي: «اوس مهال ۱۰۰ تر ۱۵۰ شېدې ورکوونکي زراعتي غواوې لرو، چې د ورځې ۷۰۰ تر ۸۰۰ لیټره شېدې تولیدوو او د یو زر او ۲۰۰ تر یو زر او ۵۰۰ لیټره ریکارډ هم لرو، دغه شېدې د شرکتونو له خوا راټولیږي او مارکېټ ته وړاندې کیږي.»
د غوا ساتنې د یوې فارم کارکوونکی ګلبدین وایي: «د ورځې دوه ځلې غواوې لوشو، شېدې پاک او منظم دي، د غواوو خواړه واښه او کنجاره دي، موږ له خپلو هېوادوالو غوارو کوم کسان، چې سوداګر دي، پیسې لري زموږ په خپل هېواد کې موږ ته د کار زمینه برابره کړي، تر څو خدای مکړه دې ته اړ نه شو چې له هېواده بهر لاړ شو او بدبخت شو.»
دا په داسې حال کې ده، چې ددې ولایت د لبني محصولات ورځنۍ تولید ۹۵ زره ټنو ته رسیږي، چې ۳۰ زره ټنه یې د فارم لرونکو او نور یې په انفرادي ډول د خلکو له خوا پلورل کیږي.

## لوګر کې څارویو لپاره دسایلیج درې زېرمتونونه جوړیږي

د لوګر د کرنې، اوبولګولو اومالداری ریاست وایي، چې ددې ولایت د مرکز اړوند د شش کلا، جلګه او سبزک د کوپراټیفونو اړونده مالدارانو ته د څارویو دخوراکي توکو د سایلیج د درې زېرمتونونو د جوړولو چارې رواني، چې ډېر ژر به یې رغنیزې چارې بشپړ او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.
د لوګر د کرنې ریاست وایي، چې ددغو زېرمتونونو د د دوو هغو رغنیزې چارې بشپړ شوي او د یوې بلې هغې رغنیزې چارې په بشړېدو دي، چې ډېر ژر به یې پاتې چارې هم بشپړ او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.
سایلیج یا سیلو کول (Silage) په زیاته کچه د علوفې زېرمه کولو ته وایي، چې په یو مناسب او خوندي ځای کې پرته له هوا څخه دڅارویو لپاره علوفې ساتل کیږي.



## کار ساخت برخی ذخیره‌گاه‌های پیاز در بامیان تا ۷۰ درصد به پیش رفته است

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت بامیان، می‌گوید که کار ساخت برخی از ذخیره‌گاه‌های جدید پیاز در این ولایت نزدیک به ۷۰ درصد به پیش رفته است.
وزارت زراعت، آبیاری و مالداری با راه‌اندازی پروژه‌های جدید زراعتی در سراسر کشور از طریق طرح مدیریت محصولات زراعتی در دوره‌ی کرونا، کار ساخت ۴۲ ذخیره‌گاه پیاز را در بامیان شروع کرد.
عبدالوهاب محمدی رییس اداره زراعت بامیان، می‌گوید که روند ساخت ذخیره‌گاه‌های پیاز در این ولایت به خوبی ادامه دارد و کار برخی از این ذخیره‌گاه‌ها تا ۷۰ درصد به پیش رفته است. او گفت: «قرار است در این ولایت ۴۲ ذخیره‌خانه پیاز برای دهقانان ساخته شود که تمام این ذخیره‌خانه‌ها در مرکز و ولسوالی‌های شیبر، سیغان و کهمرد اعمار می‌شوند.»
در همین حال، خان علی یک تن از دهقانان دره‌ی فولادی در مرکز بامیان که از طریق برنامه مدیریت محصولات زراعتی یک ذخیره‌گاه پیاز ساخته می‌شود، نیز می‌گوید که کارش تا حدود ۷۰ درصد به پیش رفته است. این دهقان با ابراز خرسندی از اقدام وزارت زراعت برای ساخت ذخیره‌گاه‌های پیاز در این ولایت، گفت: «قبلاً هیچ پیاز کشت نمی‌توانستیم چون نگهداری نمی‌شد و حالا که ذخیره‌خانه پیاز ساخته شد می‌توانیم پیاز کشت و آن را نگهداری کنیم.»
هم‌چنین حاجی سلطان یک تن دیگر از این دهقانان که در بخش تجارت کچالو نیز فعالیت دارد، می‌گوید: «قبلاً به دلیل نبود ذخیره‌خانه، پیاز در این مناطق زیاد کشت نمی‌شد، بناً از وزارت زراعت می‌خواهیم تا با توزیع تخم‌های اصلاح‌شده‌ی پیاز و راهنمایی‌های تخنیکی دهقانان را در ترویج بیش‌تر پیاز همکاری کند.»
تمرکز بیش‌تر برای ساخت ذخیره‌گاه‌های پیاز در ولسوالی‌های شیبر و کهمرد است، زیرا این ولسوالی‌ها برای کشت پیاز، آب و هوای مناسب دارند.

# کندهار کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې چارې تر ۳۰سلنه بشپړ شوې

د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالداری رایست وایي، چې په دې ولایت کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې، چې د ۱۰۱۰ پروژو چارې پیل شوې وې، تر ۳۰ سلنه بشپړ شوي دي، چې په پلي کېدو سره یې زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.
د کندهار د کرنې رییس سید حفیظ الله سیدي وویل، چې دغه پروژې د کندهار ښار ترڅنګ ددې ولایت د ارغنداب، ژړی، دامان، پنجوایي، شاولیکوټ، تخته پل، ارغستان، سپین بولدک او مېوند ولسوالیو کې د زرګونه ټنه مېوو اوسبو د ساتنې په وړتیا سره جوړیږي.
د کندهار د کرنې رییس سید حفیظ الله سیدي وایي: «کندهار کې دکرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې په ټولیزه توګه ۱۰۱۰ پروژې د پلي کېدو په حال کې دي، چې له دې ډلې ۹۱۱ یې ممیزخونې، ۵۲ د انارو لپاره سارک سړې خونې، د کچالو څلور زېرمتونونه او ۴۳ نور یې د مېوو او سبو د ساتنې په پار زېرمتونونه دي، چې ددغو پروژو د یوشمېر هغو رغنیزې چارې تر ۳۰ سلنه بشپړ شوي او پاتې چارې به یې هم ډېر ژر بشپړ او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.»
ښاغلی سیدي زیاتوي: «کندهار کې د کرنیزو محصولاتو



مدیریت د پروژې پلي کېدل ددې ترڅنګ چې د کندهاري بزګرانو او بڼوالو کرنیز توکي خوندي ساتي، ددې ولایت د کروندګرو او بڼوالو ستونزې راکموي، د عوایدو کچه یې زیاتوي او ترڅنګ یې زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابروي.»
په همدې حال کې هغه کندهاري بزګران، چې دکرنې وزارت له خوا ورته سړې خونې، ممیزخونې او زېرمتونونه جوړیږي، د کرنې وزارت له خوا ددغو سړوخونو، ممیزخونو او زېرمتونونو د جوړېدو هرکلی کوي او هیله مند دي، چې ددغو پروژو په جوړېدو سره کروندګر د مناسب زېرمتونونو، سړوخونو او ممیزخونو خاوندان شي او د دوی د حاصلاتو د خوشاکېدو او مالي زیانونو مخه ونیول شي.
د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ یو تن بزګر عبدالکریم وایي: «د کرنې وزارت له خوا د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې پلي کېدل کولای شي، چې دکندهار ولایت د بڼوالو او بزګرانو مېوې او سابه په خپلو سیمو کې خوندي او د خوشاکېدو مخه یې ونیسي.»
دغه بزګر وایي، ددې لپاره چې د کندهاري بزګرانو او بڼوالو ډېری عواید د مېوو او سبو د کرکېلي له لارې دي، نو د کرنې له وزارته غواړو چې د اصلاح شوي تخمونو په وېش او د لا ډېرو معیاري سړوخونو په جوړولو کې دې له موږ سره همکاري وکړي تر څو د کندهاري بزګرانو د ژوند او عوایدو کچه لوړ شي.
لوی کندهار د کال زرګونه ټنه وچه او تازه مېوې د هېواد د نورو ولایتونو ترڅنګ بهرنیو هېوادونو ته هم صادروي، چې مېوې یې په ځانګړې توګه انار یې غوره نړیوال شهرت هم لري. د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې له لارې د سړوخونو او ممیزخونو په جوړېدو سره د کندهار ولایت زرګونه ټنه مېوې په ځانګړې توګه د انارو او انګورو د خوشا کېدو او په ټېټه بیه یې د پلور مخه نیول کیږي.